بسم الله الرحمن الرحيم

## د انګلستان خلک د یوه شپږ کلن ماشوم، ارتور لبینیو هیوز شکنجې ته حیران شول.

**خبر:**

دغه شپږ کلن ماشوم د خپل پلار او مېرنۍ مور له لوري په وحشت ناکه توګه مړ شوی. دې پېښې په انګلستان کې د ماشومانو له ستونزو پرده پورته کړه، چې په دغه هېواد کې ماشومان له تاوتریخوالي سره مخ دي. آرتور د څو میاشتو بند په اوږدو کې، په فزیکي توګه وهل شوی، مسوم شوی او ورسره ناانساني چلند شوی، چې له مرګ وروسته یې پر بدن ۱۳۰ ټپونه وو. کارپوهان وایي چې د نوموړي له حالت او څېړنو معلومېږي، چې شکنجه شوی. ډې لارا هیرسن چې د غربي میډلن لنډ له پولیسو څخه دی او د دې قضیې د څېړلو مسوولیت پر غاړه لري، وویل: «یقیناً دا د ماشومانو د ځورولو تر ټولو ناوړه قضیه ده، چې زه یې باید و څېړم، نوموړي زیاته کړه، موږ ډېری وختونه نه پوهیږو چې د تړلو دروازو ترشاه څه تېږي، خو په دغه پېښه کې موږ واقعتونه ولیدل. سرچینه: (ګارډین).

**تبصره:**

د آرتور قضیه د ماشومانو پر وړاندې د زور زیاتي یوه کوچنې بېلګه ده. په ۲۰۱۹م، کې د مارچ تر ۳۱مې، پورې ۵۴۳۸۰ ماشومان په انګلستان او ویلز کې د محلي چارواکو لخوا له دې امله ساتل کېدل، چې د غه ماشومان د خپلو والدینو یا سرپرستانو له لوري ځورول شوي وو. شاوخوا نیمایي ۵۲ سلنه لویان له ۱٦ کلنۍ مخکې له کورني تاوتریخوالي سره مخ کېږي، چې یوازې ۱۳ سلنه یې له کورني تاوتریخوالي خوندي دي. د ملي احصایې دفتر او د کوویډ ۱۹ وبا، دیوه داسې هېواد اصلي څېره ښکاره کړه چې په کې د ماشومانو پر وړاندې سخت تاوتریخ والی دی، په داسې حال کې چې دغه هېواد نه یوازې دا چې د بشري حقونو د پلوۍ ویاړ لري، بلکې خپل ارزښتونه نورې نړۍ ته په فعاله توګه تبلیغوي. د ارتور په قضیه کې د انګلستان رسنیو د نومووړي مور او پلار ملامت وګڼل او د عامه تحقیقاتو غوښتنه یې وکړه.

د انګلستان دولت د ماشومانو پر وړاندې د تاوتریخوالي قضې عادي ګڼي او یوازې د عامه تحقیقاتو غوښتنه کوي. په تېرو وختونو کې دا ډول څېړنې د دې لامل شوي، چې ټولنیز خدمات د ماشومانو پر وړاندې د ناوړه چلند په مخنیوي کې مهم رول ولوبوي یا داسې قانون جوړ کړي، چې موخه یې له نااهله والدینو څخه د ماشومانو خوندي کول و. ډېری وختونه دا ډول څېړنې د انګلستان په ټولنه کې له ماشومانو سره د تاوتریخوالي په مخنیوي کې

پاتې راغلي او دا کار د دې لامل شوی، چې ځینې خلک د سختو اقداماتو غوښتنه وکړي لکه : د تل لپاره له ظالمو والدینو څخه د ماشومانو جدا کول او د بیا زېږون حق ترې اخیستل. دا ډېره ناشونې ده، چې اوسنۍ دولت به د ماشومانو سره د ناوړه چلند په کمولو کې مرسته وکړي، ځکه چې له ماشومانو سره د زور زیاتي اصلي لامل فردي آزادي ده، چې حکومتونو، ټولنپوهانو او والدینو په وار وار له دې حقیقت څخه سترګې پټې کړې.

فردي آزادي یا انفرادیت د لودیځ سیکولریزم یو مهم رکن دی او په غربي ټولنو کې ډېرې اړیکې پر همدې اساس ولاړې دي. فردي ازادي دا شرایط بړدي چې خلک باید خپلو ګټو ته لومړیتوب ورکړي، چې دا په خلکو کې د خودخواهۍ ذهنیت رامنځته کوي او خلک دې ته هڅوي چې مخکې له دې چې د نورو اړتیاوې پوره کړې باید خپلې اړتیاوې پوره کړې. سربېره پر دې فردي ازادي د دې لامل شوې، چې مسوولیت ته د بار په سترګه وګوري او د خپلو موخو د پوره کولو په لاره کې یې خنډ ګڼي.

له همدې امله په غرب او په ځانګړي توګه په تولنیز ډګر کې له مسوولیت څخه د خلاصون په خاطر اړیکې نیول کیږي یا پرېکړي، چې دا ټول په ټولنه کې ناوړه اغېزې لري. د دې کار په پایله کې په ټولنه کې په پراخه کچه زنا، د جنین سقط، بې وخته زېږون، له ماشومانو پرته ژوند کول، والدین د ماشومانو د روزنې لپاره لګښتونه نه ورکوي، میندې د خپلې دندې په خاطر خپل ماشومان پرېږدي، والدین خپل ماشومان د روزنې لپاره د پالنې کورنو یا وړکتونونو ته بیایې، په ټوله کې د ماشومانو سره د زور زیاتي لامل د انفرادیت مفکوره ده.

غربي دولتونه د فردي ازادۍ د اغېزو او هغو زیانونو په اړه چې د دوی ټولنو ته یې اړولي، په مبارزه کې پاتې راغلي، ځکه چې د دغه دولتونو دنده په ټولنه کې د افرادو د فردي ازادۍ برابرول دي، نه دا چې د افرادو پر ازادیو محدودینونه ولګوي. له همدې امله د دولت لومړنۍ دنده د فرد لپاره د اسانتیاوو برابرول دي، نه دا چې د ټولې کورنۍ لپاره اسانتیاوې برابرې کړي. د بېلګې په توګه کله چې د ماشومانو پر وړاندې د تاوتریخوالي بحث کیږي غربي حکومتونه د ماشومانو حقوق د دوی له مور او پلار څخه جلا ګڼي. په طبعي ډول، کومې حلارې چې د دا ډول فکر څخه رامنځ ته شوې وي، تر ډېره بریده د ماشومانو مور او پلار د فردي ازادیو په ساتلو تمرکز کوي. نه په ټوله کورنۍ یا ټولنه کې. همدا لامل دی چې کورنۍ او ټولنه له ماشومانو سره د ناوړ چلند پر وړاندې هېڅ جمعي مسوولیت نه لري، ځکه چې قانون او مسوولیت یوازې په فردي کچه پلی کیږي.

په اسلام کې د فردي ازادۍ مفهوم د انسان او الله سبحانه وتعالی تر منځ اړیکې او د فرد اړیکه یې په خپل ځان پورې محدوده ده لکه: په عبادت، خوراک، جامو او اخلاقو کې. هغه اړیکې چې په خلکو پورې اړه لري، افرادو ته اجازه ورکول کیږي، چې خپلې اړتیاوې پوره کړي ، خو په دې شرط چې د نورو کسانو حقوق تر پښو لاندې نه کړي. په هر ډول اړیکو کې مسلمانان اړ دي، چې د الله سبحانه وتعالی رضا په پام کې ونیسي او خپلې کړنې د

شرعي احکامو مطابق برابرې کړي. کله چې دا قوانین پلي شي له انسان څخه ځانګړی شخصیت جوړوي، چې دا فرد به د انسان دوستۍ فکر لري نه د خودخواهۍ.

اسلام د کورنۍ ستاینه کړې:

رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي:

«**تَزَوَّجُوا الْوَلُودَ الْوَدُودَ، فَإِنِّي مُكَاثِرٌ بِكُمْ الْأُمَمَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ**» ***ژباړه:*** *له محبت کونکو او ډېر اولاد پیدا کوونکو ښځو سره نکاح وکړئ، ځکه چې زه (رسول الله) به د قیامت په ورځ د نورو امتونو پر وړاندې، په خپل امت ویاړم.*

الله سبحانه وتعالی فرمایلي دي:

{**وَلَا تَقْتُلُوا أَوْلَادَكُمْ خَشْيَةَ إِمْلَاقٍ نَحْنُ نَرْزُقُهُمْ وَإِيَّاكُمْ إِنَّ قَتْلَهُمْ كَانَ خِطْئًا كَبِيرًا**}[الاسراء: ]

***ژباړه:*** *خپل اولادونه د بېوزلۍ له وېرې مه وژنئ، موږ به هغوته هم روزي ورکړو او تاسو ته هم. په حقیقت کې د هغوی وژل ستره ګناه ده.*

رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي: «**كَفَى بِالْمَرْءِ إِثْمًا أَنْ يُضَيِّعَ مَنْ يَعُولُ**»(رواح:ابو داود) *ژباړه: د یو کس لپاره همدا ګناه بس ده، چې د خپلې کورنۍ حق پر ځای نه کړي.*

په اسلام کې ماشومانو ته د رحمت په سترګه کتل کیږي او کورنۍ د ټولنې په ثبات کې مهم رول لري. نن ورځ فردي ازادي د غربي ټولنو جوړښتونه ګواښي، د کورنیو ارزښتونه تخریبوي او د مدني حقونو څخه سرغړونې کېږي. له شک پرته چې که د فردي ازادۍ مفکوره همداسې بې تفاوته پرېښودل شي، نو دا به د اسلامي او غیرې اسلامي ټولنو د ټوټې کېدو لامل شي. اسلام د سکولرېزیم د فردي ازادۍ یا خودخواهۍ په پرتله کورنۍ او ټولنې ته زیات اهمیت ورکوي، نو لازمه ده چې په غرب کې مسلمانان د انفرادیت نیمګړیتاوې په ګوته او غیر مسلمانانو ته اسلام، یوازینی د ستونزو د حلارې په توګه وړاندې کړي.

**د حزب التحریر مرکزي مطبوعاتي دفتر ته**

**لیکوال: عبدالمجید بهټيـ ولایه پاکستان**

**۱۴۴۳هـ.ق، د جمادی الاول لومړۍ**

**۲۰۲۱م، د ډسمبر ۱۰مه**

**ژباړن: محمد هارون روفي**